AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۶/۰۶/۱۳

# لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

## ۳۸۵مه برخه

**هرخوا چې ځې، لارې دې خلاصې**
**نه دې لمن نيسم، نه سوال درته کومه**

**په ريبارانو باور نه‌شته**
**جانان ته خپله نن ورځم چې رضاشينه**

**د بد نصيبي پيغلې موري**
**بدمرغه لور دې اوس د بد پور پرې‌کوينه**

د لنډيو د دې برخې له‌پاره دا نوې لنډۍ برابرې شوې دي:

**غمونه ډېر، عمر مې کم دی**
**په خدای قسم دی، هميشه مې ژړوينه**

**غمونه مه‌کوه جانانه**
**غمونه وينه وچوي، رنگ زېړوينه**

**غمونه ډېر، عمر مې کم دی**
**په خدای قسم دی، گورستان ته مې لېږينه**

**ارمان به وکړي، وخت به تېر وي**
**هرڅه به ډېر وي، زه به تورې خاورې‌يمه**

**بې‌سجدې لمونځ درپسې وشه**
**ما ته دې مينه کې راجوړ کړل پساتونه**

**بيا په خندا مخې‌ته راغلې**
**ما مې د زړه زخمونه اوس گنډلي‌دينه**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**په مجبورۍ مې خبر نه‌دي**
**یاران خپه‌دي، ما په خدای سپارلي‌دینه**

**په غم دې زه زړې، زړې کړم**
**په خوشبویي دې ګاونډیان مزې‌کوینه**

**په مکتبۍ جنۍ مئن شوم**
**چې په غصه شي، په انګلش ښکنځل کوینه**

**په نه خبره، مروره**
**راپوخلا کېږي، که جرګه درولېږمه**

**په ریبارانو باور نه‌شته**
**جانان ته خپله نن ورځم چې رضاشینه**

**په هیڅ طبیب به جوړه نه‌شم**
**خبره خلاصه ده، ریښتیا نیمګړې‌یمه**

**په‌کار دې نه‌وم، درنه لاړم**
**که دې په کار وای نازولی به دې‌ومه**

**پر بالښته مې ویښتان توی وو**
**راته ښکارېږي د ځوانۍ ورځې مې ځینه**

**په حجرو ورک لالي ته وایه**
**د نیموشپو وتلي، ډېر ورک شوي‌دینه**

**پر یارانه دې خاورې واوړه**
**زړګی مې راوړه، په یارۍ پېښمانه یمه**

**چې په ورکړې مئن نه‌شې**
**سبا به سرې‌سترګې ولاړ يې، بل بې وړینه**

**چې مسافرشې، بیا به راشې**
**رب دې د تورلحد قیدي مه‌کړه مئنه**

**چې مړوندونو کې يې تنګ وو**
**هغه بنګړي يې اوس څنګلو ته ورځینه**

**چې سترګې پټې کړم، تا وینم**
**چې سترګې خلاصې‌کړم، خالي وي وطنونه**

**نه سپېلنۍ‌شوم، نه‌لوګۍ‌شوم**
**نه لیونۍ‌شوم، نه مې زړه صبرکوینه**

**ناز به دې وړم، ناز دې چلېږي**
**د زورورو اوبه تل پر لوړه ځینه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**نن مې د یار کلي کې شپه ده**
**ډېره‌خوږه ده، خدای دې نـه سباکوینـه**

**د عاشقۍ دوران دې ورک شي**
**ځوانـه‌ځوانی کې د شپیتو کلونو یمه**

**د محبت محتاجه ژونده**
**مئېن په یو یم، خیال د ټول کلي ساتمه**

**د غابنوو خاپ دې نـه‌ورکېږي**
**په غم ښادي کې مخ له خلکو پټومه**

**د زړګي‌زور مې پاتې نـه‌دی**
**یاره کیسې دې لنډوه، سترې دې‌کړمه**

**د پښتنو ناسم‌رواج دی**
**ګناه د ورور وي، سزا خور ته ورکوینه**

**د بد نصیبې پیغلې مورې**
**بدمرغه لور دې اوس د بد پور پرې‌کوینه**

**د دېواله سیورې ته کېنه**
**لوښي به مینځم، د بنګړو شور به درځینه**

**ته په پیسو مئېن‌یې یاره**
**وطن ته راشه، زه پر تا مئېنه‌یمه**

**ته به په کوم محفل کې خاندې**
**زه دې دیدن ته لکه پانه ژېړه‌شومه**

**ما ته مې خپل زړګی مالوم دی**
**که نن یې صبرکړم، سبا دې یادوینه**

**نصیب مې نـه‌شوې ټولګیوالې**
**سوال د مرګې راته کوه چې خاورې‌شمه**

**هرخوا چې ځې، لارې دې خلاصې**
**نـه دې لمن نیسم، نـه سوال درته کومه**

**یا به دې هسې زړګی بد وي**
**یا به دې بل تر ما نـه ښه لیدلی‌وینه**

**کلی به ځان باندې راوران کم**
**مړ به پې ځان کړم، چې تا بل‌څوک یارکوینه**

**که مې کبرونـه کړي نـه‌وای**
**پردې سپېرو دښتو به ولې ګرځېدمه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**که حقیقت راباندې وایې**
**چې ودې نه‌وینم، نرۍ تبه مې شینه**

**شا ته کتل، زما عادت دی**
**نه مې خوښېږي، نه مېنن درباندی یمه**

نوربیا

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ